مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۰/۰۴/۲۵

# د نیشاپور سپین سرې کونډه!

که چا د ښوونځي په دروازه قدم ایښی وي، یا یې د دیني مدرسي چوپال ته سر ښکاره کړی وي، یا څوک د خانقاه او تصوف کومي چوترې ته د ذکر او ورد لپاره ورغلی وي، نو حتما به د فخرالدین رازي له نوم او مقام څخه خبر وي. دغه شمله ور فیلسوف، مفسر او مورخ په ۵۴۴ هجري قمري کال چې د (۱۱۴۹م) سره سمون خوري، په لرغوني هرات کې پیدا او د شپیتو کالو په عمر په همدغه ښار کې وفات او خاورو ته سپارل شویدی.
پداسی حال کې چې د ایران مذهبي مشران د فاطمینو د لښکر په قمچینه زموږ راتلونکي ګواښي، نو ددغه هیواد تنګ نظرې ناسیونالسته طبقه هم غلی نده، زموږ ماضي او تاریخي شخصیتونه د خپل قلمرو او مدنیت برخه بولي. له همدی امله دوئ د سید جمال الدین افغاني په څیر، امام رازي هم د خپلو ویاړونو په تندي کې ټومبلی ګل ګڼي او هغه ته فرزند سرزمین فارس وایي.
کله چې امام رازي له هرات څخه د ایران د نیشاپور ښار ته د هغه وخت د سني واکمن په بلنه د یو کاروان په بدرګه ننوت، نو په زرګونو خلک د ژیړو نرګسو له غنچو سره د هغه هرکلي ته په کتارونو کې ولاړ وو. پدی ترڅ کې یوه سپین سرې کونډه هم د خپل بام په سر ولاړه او په څیر څیر یې د آسونو له سومانو څخه د پورته کیدونکي خړ ګرد ننداره کوله. د خپلي ګاونډۍ څخه یې پوښتنه وکړه چې دا والا حضرت څوک دی چې په دومره شان او شوکت سره یې تشریف راوړ؟ هغې ورته په ځواب کې وویل: پدې سپینو کمخیو د پاچاهۍ خوبونه مه ګوره چې ګونډی ستا د دیدن لپاره به راغلی وي. دا شهزاده ندی، بلکي هغه څوک دی چې د الله تعالی د وحدانیت په باره کې یې د یو زر دلیلونو کتاب لیکلي دی. کونډه په کنداسو غابښونو له خندا شنه شوه او ویی ویل، دا سړی به هرو مرو د الله په یو والي شکمن وي، کنه نو د الله ذات تر دی ډیر لوړ دی چې څوک دی د هغه لپاره دلیل او دلایل ولیکي، ځکه د هغه په ذات ایمان او د هغه عبودیت زموږ د فطرت خمیره ده.
د لینن د بالشویکي انقلاب له لمري سهاره را نیولې د شوروي اتحاد تر ړنګیدو پورې، د شوراګانو پدغه هیواد کې دین د ټولني اپین ګڼل کیده. مګر د تیر مارچ په دریمه ولادیمیر پوتین په اساسي قانون کې د مهم تعدیل وړاندیز وکړ چې تر مخه به یې د الله په ذات باندی ایمان لرل، د اساسي قانون برخه وي او د همجنس بازانو تر منځ واده به په هیڅ ماده کې ځای ونلري. زموږ پخپل وطن کې، د خلق او پرچم بریتور ګونډي ملګري، ډیری یې له کرونا تر مخه، څوک حاجیان شول برګي تسبیح ګرځوي او چا اوږدې ږیرې پریښودې، تبلیغ او ریوند ته یې مخه کړه. په اصل کې همدا د طبیعت حکم، د روحانیت جبر او د ضمیر د بیداری څرک دی.
مازی درې اونی وړاندی، د امریکا ولسمشر ډونالډ ترمپ له خپل ولس څخه غوښتنه وکړه چې د کرونا د وایرس څخه د نجات پخاطر خلک کلیساوو او عبادتخانو ته ورشي او لمونځونه وکړي. د ایتالیا مشر د خپل هیواد په کوڅو کې د مړو د تابوتونو له لیدلو وروسته په ډکو سترګو او ژړغوني غږ وویل: موږ د مځکي قدرتونه ددی وبا (کرونا) له مقابلې څخه کمزوري یو، راځي چې د آسمان له واکمنه د مرستي غوښتنه وکړو. همدا پخپلې عاجزی اعتراف ، د فطرت غږ او د اسرافیلي شپیلۍ یو نرۍ غونډی پوکي دی.
په اندلس کې پنځه پیړۍ وروسته، مسلمانانو ته اجازه ورکړل شوه چې په جار سره آذانونه وکړي او د اروپا په لر او بر کې د جوماتونو امامان وهڅول شول چې د کائناتو واکدار ته د درویزې لاسونه پورته کړي. میرمني تشویق شوې چې پوړني په سر او د ستکشي په لاس ولري ترڅو له کرونا څخه ځان بچ کړي. پرته له شک شبهې، د بقا او فنا تر منځ همدا زاره چاودی حالت، د فطرت د نا ویلي ژبي پټ راز او د ځواکمنو د څرګندې بې وسۍ نښه ده.
د المغرب په یوې شفاخانې کي یوه کوچنۍ ماشومه له یو سخت مرض څخه کړیدله. ددی ماشومې کړکۍ ته مخامخ یوه شنه او دنګه ونه ولاړه وه چې د ژمي د سړو بادونو له کبله یې یوه یوه پاڼه لاندی پریوتله. ونه سوکه سوکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

بربنډېدله او پاڼې یې د مځکې پر مخ بوساړه بوساړه انبار کېدلې. ماشومې خپلې مشرې خور ته په وړه خولګۍ وویل:
ببو جانې! مخکې لدې چې ددی ونې ټولې پاڼې توئ شي زه به ستا څخه ډېره لرې تللې یم او ته به را پسې ژاړې!
خور یې ډاډ ورکړ
چې د امید لمن ټینګه وساته، ته رغیږې. یو ماښام د کوچنۍ سترګې مرغۍ مرغۍ او ویده شوې، مشره خور یې په
پټه لاړه او د یو خاښ په پای کې یې یوه پلاستیکي پاڼه ونښلوله تر څو د هغې حوصله لوړه او د هیلې لمن یې
غوړیدلې وساتي. څو هفتې وروسته کوچنۍ روغه او ډاکټران یې خدای په امانی ته راغلل. خو مخکې لدې چې
کوچنۍ د روغتون له انګړ څخه ولاړه شي، هغې ونې ته ور نژدې شوه او خور ته یی وویل: لطفا دغه آخرنی پاڼه
را وشکوه چې زه یې د یادګار په ډول له ځانه سره یوسم، ځکه دی پاڼې له ما سره وفا وکړه او له ژوند سره یې مینه
را زده کړه.
نن د مبارکې روژې لمړۍ ورځ ده، که چیرې یوه معصومه ماشومه د یوې پلاستیکي پاڼې پوری خپلې هیلې ته غوټه
اچوي او په رنځ او غم غالبیږي، نو آیا د عرش العظیم د څواکمن رب پورې تړلې رسی به د نجات لپاره کافي نه
وي؟ موږ د خوف او رجا د سرسامه کشمکش او نفسي بغاوت په لومه کې راګیر یو. خو که د جلال او عظمت له
خالق سره مو د ایمان نا لیدلې اړیکې مزبوتې کړې، حوصلې مو له تاترې او تراجمیره لوړې کړې او د آدم او حواء
له ټولو بچو سره مو یو شان ښیګڼه عبادت وګڼلو، نو برۍ او نیکمرغي مو سر له اوسه مبارک شه!!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ